**بسم الله الرحمن الرحيم**

**پوښتنې ته ځواب**

**په عراق، لبنان او ایران کې عمومي لاریونونه**

**پوښتنه:**

موږ پوهېږو چې په عراق، لبنان او ایران کې په خودجوشه ډول عمومي لاریونونه د ۲۰۱۹م کال د نومبر په ۵مه پیل شول؛ ایا همداسې ده؟ ایا په دغو دریو واړو هېوادونو کې چې د امریکا تر نفوذ لاندې دي، د کومې اروپایي لاسوهنې مسله ده؟ ایا په دغو دریو هیوادونو کې به امریکا د خپلو مزدورانو د بدلېدو هڅه وکړي، که به حالات همداسې روان وي؟ هغه هڅه چې په سوډان او مصر کې یې وکړه، چې ځینې یې په نورمال او ځینې یې د پوځ په واسطه بدل کړل. الله سبحانه وتعالی دې اجر درکړي.

**ځواب:**

د دې لپاره چې پورتنۍ پوښتنې ځواب شي، اړتیا ده چې لاندې ټکو ته اشاره وکړ:

لومړی: د لاریونونو لمسوونکي لاملونه:

هو، لاریونونه په دریو واړو هېوادونو کې نژدې په یوه وخت کې را پیل شول او لمسوونکو عواملو ته یې په لاندې ډول لنډه اشاره کوو:

۱- د عراق لاریونونه: د عراق اعتراضونه د ۲۰۱۹م کال اکتوبر په لومړیو کې په پراخو لاریونو او پرلتونو واوښتل او وروسته بیا همدا لاریونونه په بغداد کې د پلونو د او نورو عمومي سرکونو د تړلو لامل شول. دا لاریونونه د هېواد د اقتصادي حالت د لاخرابوالي، په دولتي ادارو کې د اداري او مالي فساد د خپرېدو او پراخې بېکارۍ په غبرگون کې پیل شول. اعترضونه په خودجوشه ډول را پیل شول، چې وروسته بیا په ډېرو خواشینونکو اعتراضونو واوښتل او د خلکو ژوند یې له گواښ سره مخ کړ. حکومت په خپله شپاړلس کلنه دوره کې په دې ونه توانېد چې د برېښنا ستونزه حل کړي، ځوانانو او فارغ التحصیلو لپاره دندې پیدا کړي او د پراخو نفتي زېرمو په شتون کې د خلکو لوږه ختمه کړه. لاریونونو هغه وخت لا زور واخیست، چې حکومت په ځوابي عملیاتو کې ۳۵۰ لاریونوال ووژل او په زرگونو نور یې ټپیان او بندیان کړل. لاریونکوونکو د ایران پلوه گوندونو دفترونو ته اور ورته کړ، د ۲۰۱۹م کال د نومبر په ۲۰مه یې په کربلا کې د ایران کونسلگري لومړی په ډېرو وویشتله او بیا یې وسوځوله؛ غوښتنه یې دا وه چې دا کونسلگري دې له دغه ښاره لرې شي. د ۲۰۱۹م کال د نومبر په ۲۷مه یې په نجف کې هم د ایران

کونسلګري وسوځوله. د عراق حکومت دغو لاریونونو هغه مهال لا ډېر وارخطا کړ، چې په حکومت پلوه سیمو (بغداد، ناصریه، کربلا، نجف او نورو) کې لاریونونو زور واخیست. د دغو لاریونونو پایلې دومره سختې وې، چې عبدالمهدي نور د خپل واک په ساتلو کې پاتې راغی او د ۲۰۱۹م کال د نومبر په ۳۰مه یې استعفا ورکړه. د عراق پارلمان هم د ده استعفا د ۲۰۱۹م کال د ډسمبر په ۱ ومنله.

۲- د لبنان لاریونونه: د لبنان اقتصاد د بشپړې ویجاړۍ پر څنډه ولاړ دی او یا هم بشپړ ویجاړ شوی دی. د لبنان د حکومت پورونه د ۲۰۱۹ م کال په پیل کې ۸۵،۳۲ میلیارډه ډالر وو (العربیه الجدید، ۱۵/۳/۲۰۱۹). دا ډېر لوی پورونه دي، چې د لبنان د دولتي عوایدو نیمایي برخه یې په سود ورکولو لګېږي. د لبنان د ناخالص ملي تولید کچه ۱،۵۲ سلنه ده او د پورونو د سود کچه یې نږدې نیمایي دولتي بودجه کېږي (بي بي سي ۲۸/۱۰/۲۰۱۹). دغو د پانګې جرمونو د بېکارۍ کچه په هغو کسانو کې چې عمرونه یې د ۳۵ کلونو څخه ټیټ دي ۳۷ سلنې ته پورته کړې ده (بي بي سي ۲۰۱۹/۱۱/۲۶). د دغې بشپړې اقتصادي ویجاړۍ له امله چې خلکو ته د سیاسي طبقې له لوري ورسېده، د ۲۰۱۹م کال د اکتوبر په ۱۷مه د واټساپ یوه پیغام د لبنان په کوڅو کې اورنه بل کړل. لاریونوالو د وکیلانو دفترونه وسوځول. په ځانګړې توګه په جنوبي لبنان، بیروت، النبطیه او صور کې له غوسې څخه ډک پراخ لاریونونه را ووتل. دوی په سملاسي ډول د حکومت د استعفا غوښتنې پیل کړې او ان د ټول لبنان د سیاسي کړیو د بشپړ بدلون غوښتنې یې کولې. له هغه امنیتي ذهنیت سره چې دولت او د هغه پلویان یې په لبنان کې لري؛ د ایراني حزب (حزب الله) پلویانو هڅه وکړه، ترڅو د ۲۰۱۹م کال د اکتوبر په ۲۴ او ۲۵مه لاریونوال د څلورلارو په نیولو سره ووېروي. بیا دا کار د ایران حزب او د امل حرکت پلویانو په تکرار سره په بیروت کې وکړ.

۳- د ایران لاریونونه: د ایران رژیم د خپلو محوري دولتونو (هغه دولتونه چې په یو ډول د ایران پر محور را څرخي) په پرتله په غوره حالت کې نه دی. عراق، لبنان او سوریه له دوی وړاندې د غوره حکومتولۍ لپاره کومه پایداره تګلاره نه لري، چې له امله یې انقلابي ګارډ د ایران د اقتصاد ډېر سکتورونه په خپل واک کې ساتلي، غیر فارسي سیمې یې تل له پامه غورځولې دي او د هېواد په شاوخوا کې یې د داسې ښارونو کړۍ جوړه کړې چې تل په بدبختۍ کې ډوب دي. د ایران په مرکزي او سرحدي سیمو کې اقتصادي حالت د نړېدو تر بریده رسېدلی. دا د یو داسې رژیم لپاره د شرم خبره ده چې د اټومي او توغندیز پروګرام لاپې وهي او په ښارونو کې یې خلک د پټرولو د کمښت له امله عمومي لاریونونو ته مخه کوي. دغه کمښت د تېلو د چاڼ د دستګاوو د نشتون له امله را منځته شوی دی، د هغو هېوادونو نیمګړی صنعت چې د خپلو خلکو د ملکیت ساتنه کوي. له ۲۰۱۷م کال راهیسې په ایران کې د پټرولو په مصرف کې نږدې۴۰ سلنه زیاتوالی راغلی، خو حکومت بیا هم نه دی توانېدلی چې په

هرمزګان ولایت کې د تیلو د چاڼ مرکز فعال وساتي. په زیاته کچه پترول د باندېونو له لوري له ایران څخه بهر ته قاچاقیږي او لامل یې هم په سیمه کې د پترولو د بیو توپیر دی. د دغو باندېونو پېژندنه د دولت لپاره کومه سخته چاره نه ده او دا د دولت د ناکامۍ بل مظهر دی چې د ډېرې حیاتي سرچینې (تېلو) په مدیریت کې پاتې راغلی دی. له همدې امله دولت د پترولو په بیو کې تر ۳۰۰ سلنې پورې لوړوالی راوستی. دغه کار د ۲۰۱۹م کال د نومبر په ۱۵مه په تهران او نورو لسګونو ایراني ښارونو کې اعتراضونه را وپارول. لاریونونه سخت شول بانکونو ته اور ورته کړ، ایراني ملکیتونه، دولتي او امنیتي دفترونه تر برید لاندې راغلل او د دغو هرڅه په ځوابي عمل کې د ایران حکومت پر لاریونکوونکو انټرنټ بند کړ. د ایران رژیم د لاریونکوونکو پر وړاندې بې ساری توند چلند غوره کړ او لاریونکوونکو ته یې په ټوپک او مرمۍ سره ځواب ورکړ. دا چې ایراني امنیتي ځواکونو د لاریونوالو او ایراني اپوزیسیون پر ضد خپل توند چلند ته داوم ورکړ، نو د نوامبر پر ۲۳مه د وژل شویو کسانو شمېر تر ۳۰۰ کسانو واوښت. دوی د وژل شویو له ډلې څخه د ۹۹ کسانو نومونه مستند کړي، تر ۴۰۰۰ زیات کسان ټپیان شوي او تر ۱۰،۰۰۰ زیات کسان بندیان شوي دي. حتا دا نښې لیدل شوې چې د ایران انقلابي ګارډ ساتونکو له روغتونو څخه د لاریونکوونکو جسدونه نامعلوم ځای ته نقل کړي دي. (عربي انډیپینډنټ ۲۴/۱۱/۲۰۱۹).

دویم: دا لاریونونه اوس هم په خودجوشه ډول د اروپا له لاسوهنې پرته روان دي.

اروپا هڅه وکړه چې له دغو لاریونونو څخه د خپل ځان په ګټه کار واخلي، خو دا هڅه یې دومره اغېزمنه او له نفوذ څخه ډکه نه وه، چې په دغو دریو هیوادونو کې امریکایي نفوذ ته ګواښ پېښ شي. وضاحت یې په لاندې ډول دی:

۱- په عراق کې د اروپا هڅې: لکه څنګه چې وړاندې مو یادونه وکړه، د عراق لاریونونه په تېره بیا په جنوبي سیمو کې چې لا یې زور اخیستی، تمرکز یې شیعه مېشتې سیمې دي. دا لاریونونه د اروپا له نظره پټ نه دي، په تېره بیا د بریتانیې. بریتانیې هڅه وکړه چې په لاریونوالو کې نفوذ وکړي او په خپله ګټه یې تمام کړي، خو داسې کوم قوي ثبوت نشته چې د دغو لاریونونو تر شا د بریتانیې لاس لرل ثبوت کړي. ایران هم په دې برخه کې محتاط و او ان د دغو لاریونونو ضد دریځ لري. د تهران د جمعې خطیب محمد علي مهدي کرما په خپله خطبه کې د عراق لاریونکوونکي انګریز شیعه ګان وبلل او زیاته یې کړه: «دا هغه شیعه ګان دي چې د انګریز په لمسون یې لاریونو ته لاس اچولی او د عراقیانو په جامه کې یې ځانونه نغښتي دي.» (ایران انټرنیشنل ۱۱/۱۱/۲۰۱۹). د ده له څرګندونو څخه داسې برېښي چې ګواکې ایراني چارواکي وېره لري، چې هسې نه بریتانیه له دغو ولسي خوځښتونو څخه په خپله ګټه کار واخلي. پر دې سربېره ایران هڅه کوي، چې لاریونوال له دې لارې وګواښي چې تاسو د برتانیې مزدوران یاست. په ځانګړې توګه له هغه وخت راهیسې چې د بریتانیې حکومت د دغو

لاریونونو ملاتړ په ښکاره توګه اعلان کړ او سفارت پر خپله رسمي ټویټرپاڼه ولیکل: «سوله ییز لاریونونه د عراق د خلکو حق دی او زیاته یې کړه چې د لاریونکوونکو پر ضد له زوره کار اخیستل د منلو وړ نه دي. زموږ خواخوږي له هغو کسانو سره ده، چې زخمیان شوي او د هغو کورنیو لپاره دعا کوو چې غړو یې په دغو لاریونونو کې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی». (سپوټنیک ۵/۱۱/۲۰۱۹). دا له هغه دریځ سره ورته دی، چې د بریتانیې د بهرنیو چارو وزیر اندري موریسن څرګند کړی وو او العین خبري وېبسایټ د ۲۰۱۹م کال د اکتوبر په ۲۷مه را اخیستی و.

۲- په لبنان کې د اروپا هڅې: دا ښکاره خبره ده چې د اروپا او امریکا پلویان په لبنان کې شته او ګرځي راګرځي. دا هم ښکاره ده چې امریکا پلوه ډلې په لبنان کې فعالیت کوي، هغه که مستقیم د امریکا ملاتړ کوي لکه ولسمشر عون او بري او که نامستقیم لکه حزب الله چې د ایران له لوري اداره کېږي. دوی په لبنان کې خورا نفوذ لري او غښتلي اړخونه ګڼل کېږي، خو هغه ډلې چې د اروپا په تېره بیا د بریتانیې او فرانسې ملاتړ کوي، لکه جعجع او جنبلاط کمزوري اړخونه ګڼل کېږي. البته د حریري په برخه کې بیا خبره بېله ده، دی تقریبا حساس دی ځکه ده یوه پښه په اروپایي پلوه موزه کې اچولې او بله پښه یې په امریکایي پلوه سعودي کې ایښې او ډېر وخت داسې کارونه کوي چې مقابل اړخ پرې ګنګس کړي. د بېلګې په ډول د لبنان څلورو هغو وزیرانو چې لاریونکوونکو یې د ۲۱۰۹م کال د اکتوبر پر ۲۰مه له حکومت څخه د استعفا غوښتنه کوله او یوه ورځ وړاندې د ۲۰۱۹م کال د اکتوبر پر ۱۸مه سعد حریري اعلان کړی و، چې روان ناورین به په ۷۲ ساعتونو کې حل کوي، خو ده د ۲۰۱۹م کال د اکتوبر په ۲۹مه د ولسمشر عون او ایران پلوه امنیتي برلاسې ډلې د هیلو خلاف خپله استعفا ورکړه. بیا فرانسې د بهرنیو چارو په وزارت کې د منځنې ختیځ او شمالي افریقا د څانګې مشر کرسټوف فارنو د لبنان ولسمشر میشل عون ته ولېږه. هغه نوموړي ته د فرانسوي ولسمشر ایمانویل مکرون پیغام ورساوه او په دغه پیغام کې یې د لبنان د وضعیت په اړه د فرانسې د حکومت لېوالتیا په ډاګه کړه او په لبنان کې یې د روان کړکېچن حالت په سمولو کې له خپله اړخه تیاری وښود (العربیه، ۲۰۱۹/۱۱/۱۱). د یاد استازي لیدنه د امریکا پلوو کسانو له لوري ونه منل شوه. څرنګه چې د رسمي معلوماتو لپاره د لبنان ملي اداري د لبنان د بهرنیو چارو وزیر جبران جرجي باسیل له قوله خبر ورکړ، چې ده فرانسوي استازي ته ویلي: "هیڅ بهرنی لوری د لبنان په کړکېچ کې لاسوهنه نشي کولای او له یاد کړکېچ څخه په خپله ګټه کار نه شي اخیستلی." برتانیې هم خپل استازی ریچرد موړ لبنان ته ولېږه او له میشل عون سره یې وکتل او ویې ویل: "برتانیا د لبنان یو تلپاتې ملګری پاتې شوی او د اوږدمهال لپاره یې د لبنان ملاتړ کړی دی؛ د بېلګې په توګه تېر کال یې ۲۰۰ مېلیونه ډالر د لبنان امنیت، ثبات، ښیرازۍ او حاکمیت د ملاتړ لپاره پانګونه وکړه." ده زیاته کړه: "سوله ییزو اعتراضونو ته احترام مهم دی او د

تاوتریخوالي او فشار په مټ د معترضو حرکتونو مهارول په بشپړ ډول د منلو وړ نه دي." (انډپنډنټ عربي ورځپاڼه، ۲۰۱۹/۱۱/۲۵).

۳- په ایران کې د اروپايي هېوادونو هڅې: ایراني رژیم له معمول سره سم تل بهرنیو دسیسو او گواښونو ته د ځواب ورکولو ادعا کړې ده. نن ورځ د ایران د سپاه پاسداران انقلاب اسلامي ځواک مشر د امریکا، اسراییل، برتانیې او سعودي عربستان د له منځه وړلو گواښ وکړ او ویې ویل د ده له هېواد (ایران) سره په چلند کې دوی له «سرو کرښو» څخه تېرېږي. قاسم سلیماني په تهران کې پخپل یوه بیان کې حکومت پلوو لاریونکوونکو ته چې له ایراني تلویزیون څخه خپرېد وویل: "زه امریکا، اسراییل، د السعود کورنۍ او برتانیې ته وایم، چې تاسو زموږ ځواک د جگړې په ډگر کې ولید او تاسو ځواب نشو ورکولای؛ زموږ څپېړې لا تر اوسه د نړۍ په یاد دي." ده زیاته کړه: "موږ تاسو ته وایو: زموږ له سرو کرښو مه اوړئ، خو که تاسو له سرو کرښو راتېر شوئ، نو له منځه به مو یوسو" (آر تي، ۲۰۱۹/۱۱/۲۵). رژیم غواړي وښيي چې د لاریونونو ترشا بهرنۍ کړۍ دي او یوازې هغه خلک نه وو، چې له تاوتریخوالي سره مخ شول. باید ووایو چې ټولې نښې نښانې څرگندوي، چې د خلکو لاریونونه د دوی له زړونو او وینو څخه وو. داسې ښکاري چې د بهرنۍ لاسوهنۍ بڼه په ایراني رژیم کې تر دې بریده تحرفېږي، چې د تهران د جمعې خطیب مخکې ویلي وو: «په عراق کې شیعه لاریونوال انگلیسي شیعه گان دي!» په ایران کې اوسني لاریونونه نه لومړي او نه به هم وروستي وي او ښايي خودجوشه وي او د بهرنۍ لاسوهنې هېڅ نښه نه پکې لیدل کېږي. په ایران کې لاریونونه هم د سوریې د لاریونونو په څېر دي چې خلک د جابرو چارواکو د تگلارو پر ضد مبارزه کوي- هغه تگلارې چې د امت د چارو په مدیریت کې یې د بري هېڅ نښه نه لیدل کېږي.

درېیم: دا چې امریکا غواړي په دریو هیوادونو کې خپل مزدوران بدل کړي؛ نو دا موضوع په لاندې ډول ده:

۱- په یادو دریو هېوادونو کې د امریکا حقیقي اغېز شته دی، په داسې حال کې چې اروپا (برتانیه او فرانسه) له امریکا سره د نفوذ په وېشلو کې پاتې راغلې.

۲- تر هغه وخته چې امت د اسلام پر بنسټ بیداري نه وي ترلاسه کړې او حقیقي بدلون رامنځته نشي، د یادو هېوادونو واکمنان به د امریکايي پالیسۍ تابع وي او دوی به یوازې بدلېږي یا به پر خپل ځای پاتېږي.

۳- کافر استعماري دولتونه له خپلو لاسپوڅو څخه غواړي چې د دوی گټې خوندي کړي. که خلک پاڅون وکړي او گډوډې رامنځته شي، بیا نو استعماري دولتونه خپلو لاسپوڅو واکمنانو ته تر ټاکلې مودې پورې وخت ورکوي. که نوموړي د نظم په ساتلو کې پاتې راشي، مانا دا چې بادار ته په چوپړ کولو کې پاتې راغلي او بادار یې له خپل موقفه لیرې کوي. دا د تش په نامه ډیموکراسۍ دروغجنه څېره ده، چې نوی لاسپوڅی تر شړل شوي لاسپوڅي سپین معرفي کوي، یعنې که کړکېچ د مهارېدو وړ نه وي، بیا له پوځ څخه کار اخلي؛ لکه څرنگه یې چې په ۲۰۱۱ م کال په مصر او په ۲۰۱۹ م کال په سوډان کې ترسره کړل.

ځلورم: د اوسنیو واقعیتونو په رڼا کې په یادو دریو هېوادونو کې احتمالي بدلون ته په کتو لاندې مسایل ښکاره دي:

۱- د ایران په تړاو: امریکا په ډاګه وایي چې په ایران کې د رژیم بدلون نه غواړي، یعني هېڅ پروا نه کوي چې په لاریونونو کې څومره کسان وژل کېږي، ځکه امریکا باوري ده چې یاد رژیم یې ګټې خوندي کوي. په هغه وخت کې چې ایراني رژیم د خلکو وینې تویولې، امریکایي چارواکو د نظم پر ساتلو ټینګار کاوه. په سپینه ماڼۍ کې یو لوړپوړي امریکایي چارواکي د یکشنبې په ورځ وویل: «د ده هېواد په ایران کې د رژیم بدلون نه غواړي...» (العربیه نیټ، یک شنبه ۲۰۱۹/۱۱/۱۷)؛

له همدې امله د تېرو کلونو د لاریونونو په څېر د نومبر ۲۰۱۹ لاریونونو په پایله کې هم د رژیم د بدلون احتمال نشته.

۲- د لبنان په تړاو: لکه څرنګه چې موږ مخکې یادونه وکړه، په لبنان کې امریکایي پلوه او اروپایي پلوه کسان شتون لري او د پرتلنې په پایله کې ویلای شو چې لومړۍ ډله پیاوړې او د کمزروي ډلې له واک څخه د تېرېدو لاره هواروي او دواړه ډلې د تکنوکرات حکومت په تړاو ښېل نظرونه لري. سربېره پر دې هم احتمال شته، چې امریکا په لبنان کې د حکومت پلې ته بدلون ورکړي، ترڅو د امریکایي پلوو ونډه غوښنه او اروپايي پلوو ته هم یو څه ونډه ورکړي او په دې سره د لاریونونو مخه ونیسي.

۳- د عراق په تړاو: امریکا د پردې تر شا کابو ټول عراق اداره کوي. په بغداد کې د امریکا سفارت ۱٦۰۰۰ مامورین لري، چې هغوی د ټولو عراقي وزیرانو په ځانګړې ډول د تېلو او امنیتي سکتور د وزیرانو چاري څاري او په نړۍ کې د امریکا تر ټولو لوی سفارت همدا دی. امریکا په عراق کې ګڼې پوځي اډې لري، چې مهمه یې په انبار کې د عین الاسد اډه ده. د تېرې میاشتې په وروستۍ اونۍ کې امریکا خپل ګڼ استازي عراق ته ولېږل، چې له ډلې یې د ۲۰۱۹م کال د نومبر په ۲۳مه د امریکا د مرستیال ولسمشر مایک پنس ناڅاپي لیدنه وه. نوموړی عین الاسد ته ولاړ او تر ده یوه اونۍ مخکې د امریکا لوی درستیز مارک میلي بیا د ۲۰۱۹م کال د نومبر په ۲۷مه بغداد ته ولاړ. دا له عراق څخه د امریکا دقیقه څارنه په ګوته کوي. عراق امریکا ته ډېر ارزښت لري؛ دوی عراق اشغال کړ او ادعا کوي چې عراق ته یې پرمختګ ورکړ. په داسې حال کې چې هلته یې ګډوډي او بې اتفاقي رامنځته کړه. هلته پرله پسې کړکېچونه روان دي، احتمال شته که وضعیت سم نشي امریکا به ډېر ژر د پوځ له لارې بدلون رامنځته کړي او لارو کوڅو ته به یې د حکومت پرضد را وباسي، لکه څنګه چې یې په مصر او سوډان کې دا کړنه ترسره کړه. د ترورېزم ضد ځواک ډله چې امریکا جوړه کړې، په ښو وسلو سمبال ده او په عراق کې لوی پوځي ځواک دی. هغوی لا تراوسه د لاریونوالو په ځورولو کې ونډه نه ده اخیستې، داسې ښکاري چې په تحریر څلور لارې کې د راغونډو شویو لاریونوالو لپاره د فاسدو سیاستوالو پر وړاندې د ژغورلو یو ځواک دی. دوی د عراق د

لومړي وزير عادل عبدالمهدي تر استعفا وروسته د ياد ځواک د يوه مشر جنرال عبدالوهاب الساعدي انځور له ځانه سره کرځاوه، ګواکي دغه ځواک د لاريونوالو لپاره د منلو وړ دی او د ستونزې په حلولو کې رول لوبولی شي. له بل لوري امريکا په بغداد کې پوځي ناستې ترسره کړې او خپل استازي يې د يادې ستونزې د حل لپاره ولېږل؛ سربېره پردې چې د امريکا لوی سفارت هلته ګڼ فعاليتونه ترسره کوي او ټول هغه کارونه يې ترسره کړل چې اړين وو.

د عادل عبدالمهدي استعفا او د نوي لومړي وزير ټاکل به ياده ستونزه حل نه کړي، خو په موقت ډول يعني زخمونه به يې د جوړېدو تر وخته پرانيستي وي.

که څه هم په درې واړو هېوادونو کې لاريونوالو ځينې داسې شعارونه زمزمه کول، چې حساب پرې کېږي او ځينې نور بيا داسې شعارونه بدرګه کول، چې له هغو مخکنيو سره ضد وو. له لومړنيو شعارونو څخه يې داسې ښکارېدله، چې ياد حرکتونه خودجوشه دي؛ خو له ورستيو لاريونونو څخه داسې ښکارېدله چې دوی الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول صلی الله عليه وسلم، د خپلو ځانونو او کورنيو نيکمرغي، د اسلام حاکميت او د رښتني دويم راشده خلافت تاسيس هېر کړی دی. که د يوه حرکت تر شا رښتنی مشرتابه نه وي، نو هغه حرکت پرته له سمې لارښوونې مخته ځي او د دوی هڅې او قرباني به بې ګټې وي او داسې به وي لکه هغه څوک چې خپل وېشلي تارونه له ټينګوالي څخه وروسته بېرته شني. الله سبحانه وتعالی د سمې لارې لارښوونکی دی.

**۱۴۴۱ هـ.ق کال، د ربيع الاول ۷ مه**

**۲۰۱۹ م، د ډسمبر ۴مه**